**افغانان له افغان دولت څخه غواړي چې د سولې او بیا پخلاینې لپاره یوه غوره تګلاره جوړه کړي**

**کابل ــ افغانستان: د ۲۰۱۱ کال ډسمبر د میاشتې ۴ مه:-** یو جامع رپورټ چې نن **"د سولې په هکله د افغان وګړو بحث یا ډیالوګ: د سولې د یوې عام شموله پروسې بنسټ ایښودل"** تر عنوان لاندې خپور شو، د مدني ټولنې د ۱۴ سازمانونو له خوا په لاره اچول شوې ابتکار د موندنو لنډیز وړاندې کوي چې غواړي د افغان نارینه و، ښځو او ځوانانو غږ د هغو ټولو اساسي او مهمو مسائلو په هکله پورته کړي چې د دوی پر ژوند اغیز لري، لکه: سوله، امنیت او د افغان حکومت لپاره د دې ضرورت چې د سولې د راوستلو لپاره داسې تګلاره جوړه کړي چې افغان شموله وي.

د افغانستان د ټولو اقشارو او ډلو په استازیتوب هغه ۱۵۰۰ افغانانو چې په دې بحث کې یې برخه اخیستې، دا په ګوته کوي چې زیاتیدونکې نا امني، بې عدالتي، د قانون د پلي کولو کمزوري اداري، په پراخه پیمانه فساد، د اقتصادي ودې نشتوالی، اجتماعي بې عدالتي، او ښځو د حقوقو په شمول د بشري حقونو ناکافي تحفظ په افغانستان کې د تل پاتې سولې د رامنځ ته کیدو په مخ کې اساسي خنډونه دي.

د افغانستان د مدني ټولنې او بشري حقونو د شبکې رئیس ښاغلی نعیم نظري وایي"افغانانو د هیواد په هر ګوټ کې دا ویل چې که مونږ غواړو چې تل پاتې سولې او ثبات ته ورسیږو، حکومت باید د ستونزمنې او اوږدې شخړې اساسي عواملو پر حل باندې تمرکز وکړي."

په دې بحث کې برخه والو افغانانو ویل چې د واقعي او تل پاتې سولې د تأمین لپاره حکومت د افغان وګړو ملاتړ ته ضرورت لري. لکه څنګه چې په کندز ولایت کې زده کوونکې ځوانان وایي: "مونږ هغه څوک یو چې د افغانستان راتلونکې به جوړوي". همدا رنګه افغانانو په ټینګار سره تأکید وکړ چې د تل پاتې او سولې د راوستلو لپاره هڅې او کوښښونه باید افغان شموله وي، ملي وحدت ټینګ کړي او رهبري یې د افغانانو په لاس کې وي.

د خوست له ولایت څخه یو ښوونکی، چې د ګڼ شمیر افغانانو دا غوښتنه منعکسوي چې د با ثباته سولې راوستلو لپاره یوې واحدې تګلارې ته ضرورت دی، وایي؛ "دلته د افغانستان لپاره کومه واحده ستراتیژي نشته؛ فقط مختلف هیوادونه دي، مختلف نظرونه یې دي، او مختلفې اجنډاوې دي. مونږ یو واحد پلان، او د اهدافو یوې واحدې مجموعې ته ضرورت لرو."

رپورټ په دې ټینګار کوي چې وسله وال مخالفین باید ملکي وګړو ته تاوان رسولو څخه ډډه وکړي او د جنګ قوانین رعایت کړي. په بغلان ولایت کې د بحثونو په ترڅ کې نارینه او ښځو داسې وویل: "مونږ له وسله والې مخالفینو څخه غواړو چې که دوی په رښتیا افغانان وي، نو د هیواد له بهر څخه دې اوامر نه اخلي او د افغان حکومت سره دې د سولې راوستلو په برخه کې یوې موافقې ته ورسیږي. دوی باید وسله کیږدي او د خپل ویجاړ شوي هیواد په بیا جوړولو کې برخه واخلي." په ټول هیواد کې خلکو د داسې نظریو څرګندونه وکړه.

په دې بحثونو کې ټولو افغانانو دا وویل چې امنیتي وضع په هیواد کې ورځ تر بلې خرابه شوې ده. رپورټ دا هم وایي چې خلک، چې د یاغیانو او د افغان او نړیوالې نظامي ځواکونو تر منځ راګیر پاتې دي، پر نړیوالې وسله والو ځواکونو غږ کوي

چې د شپې له خوا عملیاتونه، په پراخه کچه نیونې او په خپل سر توقیفونې دې بندې کړې چې د دوی په ګمان د یاغیتوب د شدت او زیاتوالی لامل ګرځیدلی.

افغانانو دا هم وویل چې په تیرو لسو کلونو کی نړیوالو مرستو مطلوب اثر چې د امنیت غځول، سوکالی او د خلکو ته د خدماتو عرضه کول دی، نه دی لرلی. برعکس د نړیوالی مرستو یوه لویه برخه دی مفسدو چارواکو له خوا ها خوا دی خوا کړای شوی. د کندز د ولایت د یوی شورا غړی د ګڼو افغانانو نظر داسی بیانوی چی د قانون عدم حاکمیت "د افغانی ټولنی لپاره یو سرطان دی" او د حکومت په ټولو کچو کی د فساد شتون د خلکو فقر لا هم زیات کړی دی.

له ټول هیواد څخه د وګړو د غږ په توګه، د بادغیس ولایت یو تن اوسیدونکی وایی: "مونږ د وطن له دی حالت څخه په رښتیا ستړی شوی یو، هر سړی فاسد دی او د خلکو لپاره عدالت نشته. یو قاتل به بازار کی آزاد ګرځی او یو مظلوم به بی وزله او نا توانه پاتی وی. مونږ هیڅ هم نه شو کولای. ښځی د ځایی ټولنو او مشرانو د محکمی په حکم وژل کیږی او د حکومت دی خبری ته هیڅ پاملرنه نشته."

ددی راپور مطابق د اقتصادی پرمختګ نشتوالی او د ټولنیز عدالت نه پلی کیدل د ګډوډیو لوی عامل ګڼل ګیږی. فقر، غیر متوازن پرمختګ او انکشاف، د کار نشتوالی او د منابعو غیر مساوی تخصیص هغه عوامل دی چی دولت ندی توانیدلی د حل لاره یی ومومی. "افغانان د ښوونځیو، سرکونو او روغتونونو جوړول که څه هم د دولت لاسته راوړنه ګڼی اما تر هغه ملیاردونو ډالرو چی دی ملک ته راغلی ډیری کمی بولی. خلکو د کلی او ښار تر منځ توپیر هم په ګوته کړ؛ په ځینو کلیو کی هیڅ ښوونځی او روغتونونه نشته. د افغان ښځو د شبکی مشری سمیرا حمیدی وویل چی "یو متوازن پرمختګ ته اړتیا شته."

راپور زیاتوی چې د بشري حقونو او مخصوصا د ښځو حقونو حفاظت او مراعاتول د سولی راوستلو لپاره اړین عامل دی. د بغلان ولایت یوی اوسیدونکی وویل: "ټول افغانان باید په مساوی توګه له ټولو آسانتیاوو او حقوقو څخه برخمن شی باید جنس، نژاد، قومیت، قبیله او داسی نور توپیرونه په نظر کی ونه نیول شی. ښځو ته باید د ټولنی دویمه درجه انسان په توګه ونه کتل شی او د دوی ونډه په ټولنیز او سیاسی فعالیتونو کی سمبولیک ونه اوسی بلکه دوی ته باید فعاله ونډه ورکړل شی او دوی تقویه شی. د ښځو حقوقو ته باید د ټولو حقوقی دولتی موسسو لخوا احترام وشی او د تطبیق لپاره یی کار وشی".

راپور زیاتوی چې د بشري حقونو او مخصوصا د ښځو حقونو حفاظت او مراعاتول د سولی راوستلو لپاره اړین عامل دی. د بغلان ولایت یوی اوسیدونکی وویل: "ټول افغانان باید په مساوی توګه له ټولو آسانتیاوو او حقوقو څخه برخمن شی باید جنس، نژاد، قومیت، قبیله او داسی نور توپیرونه په نظر کی ونه نیول شی. ښځو ته باید د ټولنی دویمه درجه انسان په توګه ونه کتل شی او د دوی ونډه په ټولنیز او سیاسی فعالیتونو کی سمبولیک ونه اوسی بلکه دوی ته باید فعاله ونډه ورکړل شی او دوی تقویه شی. د ښځو حقوقو ته باید د ټولو حقوقی دولتی موسسو لخوا احترام وشی او د تطبیق لپاره یی کار وشی".

راپور تاکید کوی چی د هغو خلکو لپاره چی بشری حقونه یی تر پښو لاندی کړی او ډیر ظلمونه یی کړی دی باید معافیت وجود و نه لری او باید چی وربادی قانون پلی شی. ددی راپور له لاری د مدنی ټولنی موسسو غوښتنی چی د افغانانو غږ د سبا ورځی جوړیدونکی بن کنفرانس ګډون والو ته ورسوی او ډاډمنه کړی چی د افغانانو غوښتنی په دی کنفرانس کی د سولی راوستلو په موخه په هغو ټولو هڅو کی انعکاس ومومی.

**سولی او ثبات ته د رسیدلو لپاره په دی بحثونو کی شاملو وګړو لاندی سپارښتنی وړاندی کړی:**

**د افغانستان اسلامی جمهوری دولت ته:**

- په افغانستان کی دسولی ټینګولو لپاره دی یوه داسی ستراتیژی جوړه کړی چی اهداف یی په څرګند ډول معین وی او د ټولو خواو تعهد له ځانه سره ولری، او تمرکز یی د امنیت پر تأمین، اقتصادی ودی، د قانون حاکمیت او عدالت او بشری حقونو د تل پاتی سولی د اساسی اجزاو په توګه وی.

- په ټولو مذاکراتو او د بیا پخلاینی او دوامداره سولی په موخه هڅو کی دی د بشری حقونو ارښتونه په نظر کی ونیسی، په ځانګړی توګه ډاډمنه دی کړی چی د بشری حقونو په برخه کی او خاصتاً د افغان ښځو او انجونو د حقونو په برخه کی لاس ته راوړنو د تحفظ ضمانت وشی او د سولی په کومه پروسه کی ورته صدمه ونه رسیږی.

**نړیوالی ټولنی ته:**

- ډاډمنه دی کړی چی د مرستندویو ادارو مرستی د نظر وړ وګړو او مستفدینو ته رسیږی؛ د بودجی ورکولو پروګرامونه پر محلی او لیرو پرتو سیمو تمرکز ولری؛ ډاډمنه دی کړی چی دا مرستی ناوړه نتایج لکه د شخړو تشدید یا د ملیتی تضادونو سبب نه ګرځی؛ د

مرستو مؤثریت د عرضه شوو خدماتو د کیفیت له مخی وسنجوی نه یواځی د کمیت له مخی؛ د ټولنی پر بنا پر وده دی تمرکز وکړی چی د خلکو پر ضرورت ولاړ وی؛ د مناسبو میکانیزمونو له لاری دی ډاډمنه کړی چی ورکړل شوو مالی مرستو څخه ناوړه استفاده نه کیږی او په هغه حالتو کی چی مرستو کی درغلی شوی وی تر جنایی تعقیب لاندی راوستل شی او مرتکبین دی له خپلو چوکیو څخه لیری کړای شی.

**وسله والو مخالفینو ته:**

- د ملکی وګړو تحفظ دی وکړی، د جګړی د قوانینو رعایت دی وکړی، د ملکی وګړو، د میشت سیمو، مذهبی ځایونو، روغتونونو او ښونځیو په نښه کولو څخه دی ډډه وکړی، او د وژنی کمپاین دی ودروی.

**مدنی ټولنی ته:**

- د عادی افغانانو غږ دی پورته کړی – ډاډمنه دی کړی چی د افغان نارینه و، ښځو او ځوانانو نظرونه په دوامداره توګه په ټولو هغو غونډو او ابتکارونو کی منعکس کیږی او رسیږی چی په افغانستان کی د تل پاتی سولی په موخه وی، د بن د کنفرانس په شمول؛ د هیواد په کچه دی د خلکو سره بحثونه پیل کړی چی په ځانګړی توګه تمرکز یی پر لیری پرتو سیمو او محلی ټولنو، ښځو او ځوانانو وی.

**د ایډیټورانو لپاره یادابښت:**

۱. پوره راپور په انګلیسي، دري او پښتو ژبو کي د لاندنیو ویب پاڼو څخه اخیستلای شئ:

www.sanayee.org.af

www.cshrn.af

www.aihrc.org.af

www.acsf.af

www.afghanwomennetwork.af

http://unama.unmissions.org

۲. د سولې لپاره د افغانانو ډیالوګ هغه نوښت دی چی له مخي يې عادي افغانان کولای شي خپل نظريات د عام شموله مباحثو له لاري د سولي، پخلاینې امنيتی، اقتصادی پرمختګ، بشري حقونو او د قانون د حاکمیت په اړه څرګند کړي. د خلکو د ډیالوګ موخه دا ده چي د افغانستان د وګړو د خبرتیا او پوهاوي د کچې د لوړتیا له لارې د سولي او پخلاینې د پروسو لپاره هغوي ځواکمن شي، دا باوري کړای شي چي د خلکو مشروعه ناخوالي، اندیښني او هیلي واوريدلي شی، دهغو غږ راپورته او د سیاست ګذارانو له خوا په ټولو پروسو او پلانونو کي ځای ورکړای شي څو په ډې توګه تل پاتي سوله په افغانستان کي تامین شي.

۳. د خلکو د ډیالوګ د کار د هغی لارښودی کمیټی له خوا تطبیق شوی چی غړی یی دا دی: د افغانستان د مدنی ټولنی مجتمع [ASCF]، د افغانستان د مدنی ټولنی او بشری حقونو شبکه [ACSHRN]، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون [AIHRC]، د افغانستان د کارګرانو ملی اتحادیه [AMCA]، د افغانستان د بشری حقونو ا وچاپیریال د ساتنی اداره [AOHREP]، د افغانستان د ښځو شبکه [AWN]، د افغان ښځو د مهارتونو د لوړولو مرکز [AWSDC]، د افغان ځوانانو ټولنیز او کلتوری سازمان [AYSCO]، د مدنی ټولنی د پرمختیا مرکز [CSDC]، د سنایی د پرمختیا موسسه [SDO]، او د انتقالی عدالت د همغږۍ ډله [TJCG]. د دی لارښودی کمیټی غړو خپلو ساحوی دفترونو او کارمندانو څخه د دی فوکس ګروپونو د تدویر لپاره استفاده کړی.

۴. دی بحثونو او ډیالوګ کی ۷۸ فوکس ګروپونه په دی ولایاتو کی تر سره شوی: بامیان، بغلان، بدخشان، بادغیس، دایکندی، فاریاب، فراه، غور، هرات، جوزجان، کابل، کاپیسا، کندز، کندهار، خوست، کنړ، لغمان، لوګر، بلخ، ننګرهار، نیمروز، نورستان (برخه والو جلال آباد کی سره ناسته درلوده)، پنجشیر، پکتیکا، پکتیا، سر پل، سمنګان، تخار، ارزګان، او ذابل. په دی بحثونو کی له ۵۰۰ څخه زیاتو ښځو په ټول هیواد کی برخه درلوده.